دهغان شهداوو سره مو ژمنه ده ... (masthead slogan)
چهارصفحه
شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل (۱۲۹۳) سال نزدهم شمارهٔ (۲۰۱) چهارشنبه (۵) جدی ۱۳۷۵هـ .ش (۱۵) شعبان المعظم ۱۴۱۷هـ .ق (۲۵) دیسمبر۱۹۹۶م

دسمنګانو ولايت ددره صوف په ولسوالی کی :

په جګړه کی (۱۲) کسان وژل شوی دی

سمنګان - دمرغومي ٤ مه :
دسمنګانوولايت ددره صوف په ولسوالي کښي دوو وسلوالو ډلو ددوو قوماندانانو ترمنځ په نښته کي ۱۲ کسه مړه او ۷ تنه نور ټپيان شول .
دسمنګانو ولايت څخه دارارسيدلي رپوټ په اساس څرګندوي چي د مخه دده صوف په ولسوالي کي درباني حکومت دقول اردو دځواکونو دقوماندان ، استاذ عطاء او دقوماندان استاذ داود ترمنځ هغه وخت جګړه ونښته چي داستاذ داود کسان دناوي دراوستو لپاره دره صوف ته روان ؤ اوکله چي دقول اردومخي ته ورسيدل دقول اردو داقرادو ځوا چي داستاذ عطاء کسان ؤ پردوي بريدوشو چي په نتيجه کښي دواړو خواوو ترمنځ سخته

باقي «٤» مخ «٦» ستون

طی یك درګیری مسلحانه درکشمیر اشغالی :

بیش از پانزده عسکر هندی جان باخت

سرینګر٤ جدی:
درحالیکه تظاهرات احتجاج آمیزمسلمانان کشمیری درمناطق مختلف کشمیر اشغالی برضد مظالم ووحشی ګری های متجاوزان هندی همچنان ادامه دارد . طی زدو خوردی شدیدی در وادی کشمیر بیش از پانزده عسکر هند کشته وعده ای جراحت برداشته است .

بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

الهی لارسوونی

الم
او ابراهیم اواسمعیل ته موفرمان وورکړ چي زما خونه طواف کوونکو اواعتکاف کونکو اوورکوع سجده کوونکولره پاکه کړي . اوکله چي ابراهیم (ع) وویل : زما ربه ! دا هيواد خوندي (دامن ځاي) وګرځوه . اوهغو اوسيدونکو ته ئي له میوو نه روزي وورکړه چي په الله اودآخرت په ورځي ئي ایمان راوړی. وئي ویل : اوهغي څوك کافر شونوبرخه من به ئي کړو کم (شانتي) بیا به ئي ددوزخ لوري ته اړ اومجبور کړو . او څومره بدي دامصير(له يوه حال نه بل ته داوښتودا بهير) اوکله چي ابراهیم (ع) دخونې تاداوونه اوچتول اواسمعیل هم . (ويل ئي) اي زمونږ ربه ! له مونږنه ئي ومنه . بيشکه چي ته همداته ښه اوريدونکي ښه پوه يې ، اي زمونږ ربه اومونږ درله دوه تسليم شوي وګرځوي اوله اولا دي نه مو تالره تسليم شوي وله . اومونږ ته خپل مناسك (دعبادت طريقي) راوښيي اوپه مونږ راوګرځه (خپل رحمت سره) بيشکه چي ته همداته ډيرتوبه منونکي ډيررحم کوونکي يې .

ملا امیرخان متقی درګفتګو با اسوسی ایتد پرس :

بدون پذیرش حاکمیت مطلق طالبان ، استقرار صلح وثبات نا ممکن می باشد

تلاش های سازمان ملل متحد درافغانستان محتوم به فنامی باشد

کابل ٤ جدی :
طالبان تا زمانی برموقف آشتی ناپذیری خود اصرارمی ورزند که ګروه های مخالف ،حاکمیت طالبان را بدون قیدوشرط قبول نمایند .
تا آنګاهی که ائتلاف ضد طالبان حکمروایی مطلق ملاعمررهبر طالبان را نپذیرند ، استقرار صلح وامنیت درافغانستان ناممکن خواهد بود.
ملاامیرخان «متقی» وزیراطلاعات وکلتور

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

ائتلاف ضد طالبان مصمم است جبهه جدیدی را در محاذ شرقی افغانستان باز نمایند

ننګرهار٤ جدی :
ائتلاف ضد طالبان با تشدید نبرد های شدید درمحاذشمال شرق کابل ، مصمم اند ، جبهه دیګری را در ولایات شرقی افغانستان باز نمایند .
آژانس خبری فرانسه به نقل قول از سخنګوی احمدشاه مسعود ګزارش میدهد که نیروهای طرفدار استاد ربانی عنقریب

بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

حل بحران افغانستان بدون تفاهم میان رهبران جهادی ناممکن می باشد

داکترصدیق مومند

پشاور ٤ جدی :
درشرایط حاد کنونی افغانستان برکلیه رهبران افغان لازم است که تفاهم بین الافغانی را تقویت بخشند ، زیرا بدون مفاهمه ومصالحه تشکیل حکومت وسیع البنیاد اسلامی ناممکن می باشد .
داکترصدیق مومند یکتن از اعضای برجسته حرکت انقلاب اسلامی افغانستان برهبری مولوی محمد نبی محمدی با ابراز این مطلب ګفته است که حرکت انقلاب اسلامی با برخی رهبران وشخصیت های جهاد ی افغان راجع به چګونګي حل قضیه

بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

په مسکو کی دجنبش دمنابعو په ادعا :

د «جنرال دوستم» اوملامحمد عمر «اخوند» له خوا دتفاهم يومهم سند لاسليك شوی

دسندمهم ټکي داورېند پلي کېدل ، دکابل غير پوځي کېدل دبنديانو تبادله اودګډکميسيون جوړښت دي

دولايتونودنفوس په تناسب ديوه ګډ امنيتي کميسيون په جوړښت توافق وشو

دجنبش اوطالبانوخبری تل روانی وې،خوکله سرې کله تودی

"عارف صخره"

مسکو- دجدي ٤ مه :
پداسي حال کي چي دافغانستان دستوتړي دحل لپاره په نړيواله سطحه هڅي رواني دي، پدي لړکي ملګري ملتونه اوايران له افغاني ولوسره په خبرولګيادي اردسولي په ډړانديزونو غوروکوي . چي پدي ترڅ کي دايران دبهرنيو چارو دوزارت مرستيال ددوستم مرکز شبرغان ته تللي ؤ .
بل لوري ته دجنبش ملي منابعو په مسکوکي خبرورکړيدي چي اوس، اوس دافغانستان ددفاع شورا اودطالبانودااسلامي تحريك ترمنځ دتفاهم يومهم سندلاسليك شويدي .
په مسکوکي دافغانستان دسفارت نوي

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

استاد " ربانی " طی یك پیام کتبی عنوانی " بوریس یلتسین " :

افغانستان وروسیه مصمم اند روابط نیك خود را همچنان ادامه بدهند

روسیه حکومت مؤقت قابل قبول برای همه افغانها را برسمیت خواهد شناخت .

سکرتر ریاست جمهوری روسیه

مسکو ٤ جدی :
روسیه وافغانستان از روابط نیك متقابل درګذشته برخوردار بوده واکنون هم این دوکشور مصمم اند روابط نیك خود را همچنان ادامه بدهند .
این مطلب در پیام کتبی استاد ربانی عنوانی بوریس یلتسن رئیس جمهور روسیه اظهار ګردیده است .
مطابق ګزارش خبرګذاری ایتارتاس (سرګیوژنیکی) سکرترریاست جمهوری روسیه باتائید پیام ارسالی استاد ربانی عنوانی یلتسن ګفته است که درپیام مذکور بر روابط ومناسبات نیك متقابل میان

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

طی دیدار نماینده طالبان با هیئت علمای پاکستان :

طالبان توانسته اند نظام نمونه اسلامی درسطح جهان قایم نمایند

کراچي ٤ جدی :
طالبان با انفاذ شریعت اسلامی درمناطق تحت کنترول خویش ،حکومت نمونه اسلامی را در سطح کشورهای اسلامی جهان بوجود آورده اند .
ملاعبدالله حماد نماینده طالبان درشهرکراچي طی دیدارو ګفتګوباهیئت تحریك علمای اسلامی پاکستان با ابرازاین مطلب افزود :اګر درهرکشور اسلامی مانند افغانستان احکام وقوانین اسلامی حکمفرما ګردد ، کفر وفساد درتمام جهان محوشده ، وقار وافتخار امت اسلامی مجدداً اعاده خواهد شد.

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

شیرمحمد ستانکزی درګفتګوباخبرګزاری فرانس پرس :

دروازه مکاتب بر روی دختران درسال تعلیمی جدید بازخواهد شد

کابل ٤ جدی :
جامعه بین المللی اعمال محدودیت های اسلامی طالبان برزنان افغان را بهانه قرارداده و این عمل طالبان رابحیث مرکزدقت وتوجه خویش محسوب می نمایند.
ملاشیرمحمد ستانکزي معین وزارت خارجه اداره طالبان درکابل درګفتګو با آژانس خبری فرانس پرس ضمن تذکراین مطلب اظهار داشت ، هرګاه اوضاع افغانستان به حالت عادی اش برګردد وصلح وامنیت سراسری تامین شود ، مسله تحصیل وکارزنان ودختران افغان نیز حل خواهد شد .
ستانکزي افزود ،هرزمانی که هیئت های مختلفه کشورهای خارج با ما هم صحبت می شوند از اعمال محدودیت های اسلامی طالبان بر زنان افغان تنقید نموده

بقیه درستون «١» صفحه«٤»

دفلسطين په الخليل (هيرون) ښارکي داسرائيلو سرحدي پوليسو او فلسطيني زلميانو اخ و ډب

په کابل کی دطالبانو دمهماتو په يوه ډيپو کی چاودنه وشوه

کابل - دجدي ٤ مه :
په کابل کي د طالبانو دمهماتو په يوه ډيپوکي پرلپسي چاودني شوي چي تقريباً يوساعت يي دوام کړي دي اوښاريي ولړزاوه دنړيوالو خبري منابعو رپوټونه وايي

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

دایران رادیو درپوټ په اساس :

دبادغيس په "بالامرغاب" کی دطالبان اودفاع شورا دځواکونو ترمنځ خونړی نښتی روانی دی

قلعه نو - دمرغومي ٤ مه :
دځومودي آرامي وروسته بيرځل بيا دبادغيس په ولايت کښي ددفاع شورا اودطالبانو ځواکونو ترمنځ جګړه پيل شوي ده .
دايران راديو ديوه رپوټ په اساس دطالبانو ځواکونو تيره شپه دبالامرغاب په سيمه کي دددفاع شورا ځواکونو باندي بريد وکړ چي دهغوي بريد دددفاع شورا ځواکونو لخواپه شاوتمبول شو .
له بلي خوا دهرات دپخواني والي اسمعيل خان له قوله ويل شوي چي دطالبانو ځواکونه تيره شپه دبادغيس ولايت دمندګان او لويديځ مرغاب په سيمړکي دددفاع شورا ځواکونو باندي بريد

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

تعین سفیر سیار پاکستان روزنهٔ امید را برای مذاکره آشتی میان افغانها بوجود آورده است

کابل ٤ جدی :
درحالی که جامعه بین المللی پس ازتصرف کابل توسط طالبان ، دیپلومات ها وکارکنان خود را از کابل فرا خوانده و تا بحال آماده برسمیت شناختن اداره طالبان نمی باشد، تعین سفیرسیار پاکستان درامور افغانستان اولین ګامي است که درجهت

بقیه درستون «١» صفحه«٢»

مبارزین مسلح الجزایری فعالیت های خود را برضد حکومت نظامی آن کشور افزایش می دهند

الجزیره ٤ جدی :
درنتیجه یك حمله ناګهانی قوای امنیتی حکومت نظامی الجزایر بیش از بیست مسلمان الجزایری به شهادت رسیده است .
قرارګزارش خبرګزاری (کی پی آی) اینحمله دریکی ازمناطق جنوب شرق الجزیره صورت ګرفته و نظامیان

بقیه درستون «٢» صفحه«٤»

علاوالدین "بروجردی" په شبرغان کی له جنرال دوستم سره وکتل

شبرغان - دمرغومي ٤ مه :
دايران دبهرنيوچارو وزارت مرستيال ښاغلي « بروجردي» تيره ورځ په شبرغان ښارکي دملي جنبش له مشر جنرال

پاتی «٤» مخ «٣» ستون

اعلان فاتحه

سيدانور «ګوهري» سابق رئيس تفتيش وزارت زراعت ، سيداسحق «ګوهري» سابق وزيراحياء وانکشاف دهات ، سيد احمد ګوهري برادران . سيدشفيق ګوهري کارمند مؤسسه (G.T.Z) پسر . سيد حکيم فاراني خسربوره . خواجه وحيدالله صديقي خسر پسر . محمد عارف عباسي سابق استاد انستيتوت پيداګوژي کابل شوهرهمشيره ، سيدنصرت ګوهري استاد درکورس انګليسي کابل سنترپرادوزاده وباقي فاميل هاي ګوهري وفاراني .
نسبت وفات سيدميرعباس ګوهري که جنازه قبلاً بخاك سپرده شده به اطلاع دوستان ميرسانند که فاتحه مرحومي بروز پنجشنبه (٢٦) دسمبر ١٩٩٦ م مطابق ٦ جدي ١٣٧٥ هـ ش از ساعت ٩ بجه صبح الي ١٢ ظهر درسپين جماعت وفاتحه زنانه درمنزل شان واقع کوچه نمبره شاهين تاون ازساعت ٢ - ٤ عصر براي يکروز ګرفته مي شود .

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

موسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تیلیفون : (٢٦٢٤٨٧)

آدرس پستی : ١٠٣٦ یونیورستی تاون -پشاور

د سیاست خبره ...!

یوعالم وائی چی که علمی خبره هرچاوکړه په دی پسی ئی مه ګرځه چی کوونکی ئی څوك دی ، ځوکه سیاسی خبره دی واوریده حتماً دی ته پام کوه چي د چا خبره ده اوله کوم موقعیت نه ئی اوری ددی عالم معصد داد ی چی د علم موضوع اویوعلمی اصل بیانول د چاله شخصیت سره ارتباطه نلری ، علم ، علم دی چي د هرچا له خولی ئی ا وری هماغه مفهوم افاده کوی ، مګردسیاست د خبری د کوونکی د شخصیت تولة جغرافیه ، اوکیفیت په پام کی نیول کیږی ، اوریدونکی توجه کوی چي څوك غږیږی ، له کوم موقعیت نه له کومی موضع نه ، څومره د یوه پیام ورکولو ، یوه تحلیل اوجهت ورکولو لپاره جوړدی ، څومره دخپل شعار مصداق دی .

څومره صداقت ورسره دی اوڅومره د خپل پیام په باب متعهددی . ټول هغه دوستان باید دا موضوع په پام کی ونیسی چي که غواړی خپل وجود وساتی ، خپله موضع مطرح کړی ، د خپلی داعیی لپاره یو قابلیت ولری اوله یوی نوی تجربی اونوی شعارسره ټولنی ته ورشی ، خپلی غلطی جبران کړی ، یوه نوی جاذبه ایجاد کړی اونوی اجنډاتقدیم کړای شی ، دایوه نوی عزم ، نوی ارادی ، نوی احساس او نوبو څیروته ضرورت لری که یوځوك د هرڅوره جوش اوخروش مظاهره وکړي ، هرڅومره د تجدیدنظر،بدلون اوتقدس د ایجاد تلاش وکړی خو وړاندی کوونکی ئی د شخصیت د یوی نوی جغرافیی خاوند نه وی ، او واقعاً د نویتوب تاثر ایجاد نکړی بیځایه کوشش دی اونتیجه نلری .

له یوچا چي دولس تاثرد یوه بی احساسه ، جفاکار ، خاین، غله، لوټماراوعملاً د نظریی او اخلاقو مسخره کوونکی وی د هغه له «مبارکی!» خولی او «بختورا» شخصیت نه به څوك څه پیغام اوڅه جذبه وا خیستلای شی .

په بهرکښی جوړشوی ائتلافونه اوګانده یی

انس

دخبري رسنیو دخبر له مخي دروسیې په مرکز مسکو کي داستاد رباني دنماینده ګانو او جنرال دوستم دجنبش ملي ترمنځ دروسیې په منځګړیتوب پريوه مؤقت حکومت توافق شوي، چي شاغلي استاد برهان الدين رباني به ددغه مؤقت حکومت جمهوررئیس اوجنرال دوستم او احمدشاه مسعود به دجمهوري ریاست مرستیالان وي، د صدراعظم څوکي خالي پریښودل شوي ده چي په دغه ائتلاف کي دکوم څواکمن لوري دشاملیدو له پاره به وي . که څه هم ددغه موقت

حکومت نورجزئیات په مکمله توګه څرګندشوي نه دي، خوپه مسکوکي ددغسي جریاناتورامنځته کیدل داخبره ښه څرګندوي ، چي روسیه غواړي یوځل بیا لکه دپخوانیو ترخو تجربو په څیر په افغانت مسئله کي مستقیم رول ولوبوي، اوبالاخره دځیني جهادي اوغیرجهادي ګوندونو په ائتلاف سره پرافغان مقدس اسلامي جهاد یوبل تورڅادروغوروي . او هم په دي دول وکړاي شي چي دخپل نظامي تیري او پر افغانانو دظالمانه تاتارترخه واقعیتونه دافغانانو له یاده وباسي .
اوس چي په افغانستان کي

دجګړي اصلي لوریو تغییر موندلي اویوي خواته طالبان اوبل لوري ته داحمدشاه مسعود اوجنرال دوستم ځواکونه واقع دي، داددي معني لري که څوك یې مني اوکه نه چي په افغانستان کـي دقدرت جګړي توکمیزشکل غوره کړي، که څه هم دواړه لوري دمتحد افغانستان خبري

> اوس چي په افغانستان کي دجګړي اصلي لوریو تغییر موندلي اویوي خواته طالبان اوبل لوري ته داحمدشاه مسعود اوجنرال دوستم ځواکونه واقع دي، داددي معني لري که څوك یې مني اوکه نه چي په افغانستان کي دقدرت جګړي توکمیزشکل غوره کړي

کوي، خولکه څنګه چي دغه لوري دخپلي بقااو جګړي ددوام له پاره نورو ته اړدي او دنورو دتندي دګونځو نه په استفهام حرکت کوي، همدغسي دجګړي داهدافو اودخبرو اترو داجنډا ټاکل هم په نورو پوري اړوند دي .

زموږ دګران هیوادزیاتره روڼ اندي پردي خبره ښه پوهیږي چي زموږ داخلي جګړي اوس دبهرنیانو دزور آزموینې اودهغوي داهدافو ترسره کیدو شکل غوره کړي دي . په اوسني جګړه کي جنګیدونکي لوریو یوازي ددوه هدفونویه خاطر دیوبل په مقابل کي سنګرونه نیولي، یوه یې دځان

اوپلویانو آینده بقا اوبل یي هغه شیطاني اوسکتارستي غـرور دي چي په هیڅ شان دیوبل په مقابل کي تنازل ته تیارنه سکاري .

اوکه دانـه وي نوتیرو څوورځي دپاسه څلورنیم کلنوجنګونو څرګنده کړي چي هیڅوك هـم په یوازي ځان دنوروګوندونو، قامونو او میلیتونو له مرستي اوتعاون پرته حکومت نه شي کولاي اودهمدغه څرګند حقیقت په هیرولوسره په هیواد کي جګړي دوام وموند، ټولوته دمنلووړمرکزي حکومت قایم نه شو، ملت لـه خپلوجهادي اهدافوسره پردي شـو،خپلي قرباني اولاسته راوړني یي هیري کړي، دجهاد سپکاوي پخپله دهمغوله لاسه وشو اوکیږي، چي ترمقدس نامه لاندي یې زموږ مؤمن ملت دشهادت په سپیڅلي جلبه میلیونې قرباني ورکړي .

له بلي خواکه په بهرکي دجوړشویو ائتلافونواوحکومتونو څوکاله وړاندي تاریخ ته وګورو له وایه څرګندیږي چي دغه ډول حکومتونه چي دافغانانو اراده په کي شامله نه وي دجګړي ددوام اواختلافاتوله زیاتیدوپرته بله نتیجه ورکولاي نه شي .

ځکه دراولپنډي دحاجي کیمپ له

موقت حکومت نه واخله په ١٣٧١ هـ ش کال کي دپیښوردګورنر هاوس مؤقت حکومت او بیا دجلال آباد ملاکراتو په نتیجه کي په اسلام آباد کي جوړشوي اومکه مکرمه اوتهران کي توثیق شویو مؤقت حکومتونو ترخې تجربې زموږ په وړاندي موجودي دي، لکه څنګه چي هغه مهال په بهرکي جوړوشویو مؤقتوحکومتونو

> اوسني جګړه کي جنګیدونکي لوریو یوازي ددوه هدفونویه خاطر دیوبل په مقابل کي سنګرونه نیولي، یوه یي دځان اوپلویانو آینده بقا اوبل یي هغه شیطاني اوسکتارستي غرور دي چي په هیڅ شان دیوبل په مقابل کي تنازل ته تیارنه ښکاري .

کومه نتیجه ورنکړه دغه رنګي که اوس هم په مسکو اوياکوم بل ځاي کي ائتلافونه او موقـت حکومتونه جوړیږي، دیـوي جنګي جبهي له جوړیدو اوتقویه کیدوپرته بله کومه نتیجه نه لري، ځکه په بهرکي جوړشویو حکومتونوکي به حتمي ده چي دبهرنیانوګټي اوخوښي زموږ دمظلوم ملت دګټو اوخوښي پرخلاف شاملي وي ، او همداعلت دي چي په بهرکي دسولي درامنځته کیدو هرډول کوښښونو تراوسه کومه نتیجه ورنکړه حقیقت دادي چي زموږ مظلوم ملت

سرتاسري سولي یوه داسي حرکت ته ارتیالري چي دملت دمتن نه راپورته شوي وي اودملت په اراده پرمخ ځي ، دملت ملاتړورسره وي دملت دهیلو ترجماني په کي کیږي .

دحزب اسلامي افغانستان دمجاهد امیرورور حکمتیار دا خـ[illegible]ـچي په بهرکي جوړ شوي حکومتونه دجګړي ددوام اودافغانستان دتجزیې دخطر له تقویه کولو پرته بل څه زیږولاي نه شي، پرهغه واقعیتونو بناده چي په تیروڅوکلوکي بیاځلي ازمایل شوي دي. دحزب دامیر دغه وینا هغو ټولو قوتونو او سیاسي ګوندونوته دیوي روښانه لاري مثال لري، چي له زړه نه

دخپل دردیدلي مسلمان ملت له پاره سرتاسري سوله غـواړي، دمتحـد افغانستان غوښتنه یي دوینو پـه رګونوکي ځغل کوي، پرمتحد اسلامي افغانستان او د افغان مؤمن ملت پر اسلامي اراده یي کلك ایمان وي اوغواړي چي افغانستان متحد پاتي شي، ټول میلیتونه پکي لکه دوروڼو په شان ژوند وکړي اوله خپلوټولو ملي اوبشري حقوقو برخمن وي په ګران هیواد کي دمؤمن ملت له ارادي سره سم مرکزي حکومت رامنځته شي،

پاتی «٤» مخ «٧» ستون

طرح غیرنظامی شدن کابل یک طرح عادلانه وبرگشت ناپذیراست

بقلم : واصل حمید

انصافاً اگربیادداشته باشیم حکومت استاد رباني، خصوصاً ازمرحله ایکه این حکومت باصدارت انجنیرحکمتیار توسعه یافت، همیشه بالاي طالبان آواز نموده ودعوت بعمل آورده که بیایند از طریق مفاهمه و ازاراه تشکـیل یك حکومت داراي قاعده وسیع ، بـه المیه جنگ داخلي افغانستان پایان دهند. روز٦ سرطان که انجنیرحکمتیار بعنوان صدراعظم وارد کابل میشد، در زیرشدید ترین رگبارسلاح ثـقـیل طالبان که بکشته شدن وزخمي شدن بیش ازیکصدوپنجاه نفر منتهي شدو درنوع خود بیرحمانه تـرین وبیسابقه ترین حمله راکتي به شهرکابل بود ، بازهم درهمـانـروز ودراولین اعلامیه حکومت جدید که منتشرشد، صحبت از این بود که باید طالبان راه مفاهمه را انتخاب نمایند وازخصومت وبرادرکشي پرهیزنمایند . ولـي طالبان که خودرا درلفافه تگ روي وانحصارطلبي زیادتر وضخیمترازحالا، پیچیده بودند، به این حرفها و اعلامیه هاي صلح جویانه وقعي نگذاشته بـه راهي رفتند که حاصلش این هـمه خونریزي وبدبختي موجودشد .

به هرحال، حکومت استادرباني کابل را دراثر فشارطالبان تخلیه کرد واعلام نمود که این کارارابخاطر صلح کرده ، بخاطر این نموده تاشهرکابل ازویراني وخون خرابي مزیـد مصئون بماند.

حکومت استادرباني بعداً که درشکل نظامي ائتلاف موسوم به « شوراي عالي دفاع ازوطن» شـد پیشنهاد غیرنظامي شـدن کابـل را داد وانجنیرمسعود طـرح خالي شدن کابل ازتمام نیروهاي مسلح ازشعاع ٣٠ کیلومتري کابل را پیشنهاد نمود .

طرح غیرنظامي شدن کابل بااینکه ازلحاظ نظامي و سـیاسي در مقطع کنوني یك طرح ابتکاري بود وتوانست درمدت کمي پشتیباني اکثر مجامع وناظرین بین المللي را به طرفداري خود جلب نمایدوحتي قطع نامه مورخه ٢٧ قوس مجمع عمومي سازمـان ملل متحد رادرتائید ازشي این طرح بدنبال داشته باشد، اما این طرح بازهم نتوانست انگیزه وذریعه ئي براي آن شود تاطالبان بطور صریح ودریك جبهه وسیع بین المللي زیـر فشارملامتي قراربگیرد . .

حکومت استاد رباني باارایه طرح غیرنظامي شدن کابل درواقعیت نوعي بالادستي وتقـویه سیاسي یافت . ودرصحنه دیپـلمـاسي درشـکلي وتاحدودي معقولیت، وارزش سیاسي خودرا بمظاهره گذاشت اما این طرح یك نقطه خالي ویك انتقادي هم براي دولت استادرباني داشـت وآن این بود که اگرحکومت مذکور طرفدار غیرنظامي شدن کابل بود چـرا درزمان قدرت وحکومت استادرباني، ایـن طرح وارد میدان نشد .

طرح غـیر نظامي شـدن کابل قسمیکه اشاره کردیم في نفسه معقول وطرف توجه است ولي این نکته نیز قابل سوال است کـه چرا حکومت اسلامي تحت ریاست استاد رباني خود مجري این طرح مفید نشد. اگرحکومت آنوقت که طالبان هـنوز درحاشیه چهارآسیاب - میدان بـود طرح غیرنظامي شدن کابل را وارد میدان میکرد بي گمان این پیشنهاد درعرصه بین المللي چندیـن برابر قویترازروال موجود مورد پشتیباني قرارمیگرفت

وراستي همه برحکومت آنوقت که باکمال ایثار و دوراندیشي ووطن دوستي چنین طرحي را گویا وارد میکـرد آفرین وتحسین میگفت .

فرصت طلایي ومیمون براي ارایه طرح غیرنظامي شدن کابل همانوقت بود. اگرچه کلاً نمیتوان ادعاکرد که همه واقعیت ها ومعقولیت ها کارگي به ذهن میرسد امابازهم انسان [illegible] ترین فرصت هـا را بخاطري ازدست میدهد ومعقولیت هـا را به این لحاظ متوجه نمیشود که پرده یـي از خود محوري واحساسات ، ذهـن اورا متاثر و مشغول مي نماید .

طرح غیر نظامي شـدن کابل درشرایط کنوني تنها پیشنهاد زیربحث وعملي است واین طرحي است که ریشه داخلي وبین الافغاني دارد. اما چنانکه گفتیم این طرح ناوقتر وارد میدان شده و حالا حوصله و فرصـت زیادي لازم دارد وکوشش بسیاري میخواهد که طرح مذکور بعنوان یك آلت موثر و کارساز، بدل شود وتمام جوانب ذیدخل

را راضي ومجبور به پذیرش آن نماید .

دولت اسلامي تحـت رهبري استادرباني اکنون یك دولت غیرمقیم است وباآینکه رسمیت خود را درشکل سیاسي حفظ نموده ولي نقش کلیدي این دولت درحل مسایل افغانستان قدم بعدي ودومي دارد . هـر پیشنهاد وهراقدام دولت غیرمقیم بدرجـه دوم مورد توجه قرارمیگیرد . اما فراموش نکنیم که طرح غیرنظامي کـردن کابل اعتبارزیادي به این دولت غیرمقیم داده واگراوضاع همینطور ادامه داشته باشد، یعني ازطرف طالبان کدام حرکت مثبت واصلاح جویانه وارد مـیدان نشود وجواختناق وجنگ همچنان دوام داشته باشد واضح است که دولت استاد رباني از راه یك دیپلماسي فعال وازراه تکیه وتاکتیك مستمر روي طرح غیرنظامي شدن کابل، بعنوان موثرترین وعادلانه ترین راه براي پایان جنـگ میتواند به تدریج ودرمیدان سیاسي طالبان را مجبور به پذیرش نمایـد . اما خدا میداند که تاآن وقت چه جنگ هاوسیه روزي هاي دیگر که نصیب ماشود .

گروه طالبان هنوزمحصور تصورات نظامي است و در فکـر پایان قضایا ازطریق اقدامات نظامي وپیگیري جنگ است . اما اگرطالبان زیرکي لازم را براي اجراي یك ابتکار ره گشا وفیصله کن داشته باشند شایـد هیچ اقدامي وعملیاتي به اندازه تن دادن به فیصله غیرنظامي شـدن کابل براي آنهامفیدوقیمتي بحساب نیاید .

این مسئله همیشه تاکید شده که پس ازتصرف کابل طالبان قیم وکار

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

دامریکا دبهرنیو چارو نوی وزیره

داحمدضیاء "رحیمزی" ژباړه

وروسته تردي چي بل کلنټن د وهم ځل لپاره د امریکا دجمهور رئیس په توګه انتخاب شو ، نو د ملګروملتو په سازمان کی یی خپله دایمی استازی میرمن «میدلین البرایت» د بهرنیو چارو د وزیری په توګه انتخاب کړی .

«میدلین البرایت» یوی خواته د امریکا د بهرنیو چارو لومړنۍ ښځینه وزیره ده ، بل خوا د «هینری کیسنجر» وروسته به د امریکا د حکومت د مهم پست ترلاسته کوونکی دوهم سخصیت دی چي نسلاً امریکایی نده .

میدلین البرایت د ختیزی اروپا په یوه مهاجره کورنی پوری اړه لری چی د دو همی نړیوالی جګړی څخه وروسته یی د امریکا تابعیت منلی دی .

که څه هم ځینی عربان پرنوموړی د «یهودی»شك لری خو غالباً داخبره سمه نده مګرلدی سره سره له اسرائیلو سره د والبرایت بمیشه اوصحبت له چاپټ ندی .میرمن البرایت په صریح اوبی تکلفه خبرو باندی مشهوره دیپلوماته ده ، دخپل نظر په هکله څوك په غلط فهمي

کی نه پریږدي .

دهغی کورنی پرخپل ملك چکوسلواکیا باندی د نازیانو ترقبضی وروسته لومړی مهاجرت کړی و ، ځکه نو له نازیانوسره دښمنی د هغی په وینه کی د یهودانو په څیرګډه ده ، اوشاید له همدی امله وی چی په نړیواله مسایلو کی دهغی نظریات د یهودی سیاستمدارنونه ډیرتفاوت نلری . په هرصورت دامسایل کوم خاص اثرنه لری ، ځکه په امریکا کی هیڅ شخصیت دومره لوړمقام ته نشی رسیدلای که پرهغه باندی لږ شك هم وشی چی هغه له یهودانو یا اسرائیلو سره محبت نلری .

د «میدلین البرایت» کورنی په ١٩٤٨کی هغه و خت دوهم مهاجرت وکړ چي دهغی پرملك (چکواسلوکیا) باندی کمونیستانوتسلط پیداکړ . ځکه نو دهغوی کورنی د لندن پرځای امریکا ته پناه یووړه ، او دهغی ځای تابعیت یی قبول کړ .او «میدلین البرایت» همدلته دابتدایی زده کړی پیل کړی چی په نړیوال سیاست کی یی د دکتورا

(P.H.D) تر شهادتنامي پوري د رسولی . د امریکا څخه خپریدونکی تایم اونیزی په خپله یوه نوی ګڼه کی د «میدلین البرایت» د کورنی د سوابقو د څیړلو په ترڅ کی لیکلی دی چی د میدلین البرایت پلارجوزف کاربل تردی وړاندی یو دیپلومات و ، امریکا ته تر راتللو وروسته یی ددی هیواد د دینور (Denver) په پوهنتون کی د نړیواله اړیکو د مضمون په تدریس پیل وکړ ، خو د تعجب ځای دی چي د تایم جریدی د دی خبری لیکل متاسب ندی ګڼلی یا د مضمون د لیکوال هیرشوی چی «جوزف کاربل» امریکا ته تر راتللو ډیره لنډه موده وروسته د ملګروملتو سازمان د د یپلوماتیکی اداری غړی شو. ترلندی مودی وروسته هغه په کشمیرکی د ملګروملتوسازمان د دیپلوماتیکی هیئات غړی شو چی دنده یی د امنیت شورا د پریکړه لیك مطابق په جمو اوکشمیرکی د نظرغوښتنی لپاره د لومړنیو ضروری

شرایطبرابرول دي. چی ورروسته بیا د میدلین البرایت پلار(جوزف کاربل) په کشمیرکی د ډیپلوماټیو په رڼاکی پدی هکله یوکتاب هم ولیکلو.له همدی امله ده چي وبلای شو میدلین البرایت د امریکا لومړنی د بهرنیو چارو وزیره ده چی د خپل کو رنی پس منظرله امله د کشمیرد ستونزی په باره بشپړمعلومات لری . خو مسئله دا ده چي میدلین البرایت ترڅو چي د ملګروملتویه سازمان کی د امریکا دایمی استازی وه (١٩٩٣ څخه تر ١٩٩٦پوری) د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر سردارآصف احمد علی و . چی د کشمیر د ستونزی سره یې یوازی مینه وه بلکه کینه یی هم درلوده . سردارآصف علی د نوازشریف له کابینی څخه پدی نامه ا ستعفی ورکړی وه چی د نوموړی حکومت د تروریزم فعالیتونو ته وده ورکوی ، او دا هغه توروچی د امریکا د بهرنیوچارو د هغه وزیر «جمیزبیکر» د کشمیردستونزی په اړه پرصدراعظم نوازشریف لګولی و.

ځکه نو د امریکاپه ژبه خبری کونکی او د امریکا د خوښی د ترلاسه کولو لپاره د هره لحظه نا قراره سردارآصف علی څخه څنګه دا توقع کیدای شی چي هغه دی د میدلین البرایت په څیرمهمی امریکایی دیپلوماته د کشمیر د ستونزی سره دهغی د پلاره پخوانیو اړیکو په حواله د کشمیری ولس جایزاو اصولی موقف ته د رالنډیدوهڅه وکړی . داچي «میدلین البرایت» به څه ډول خارجی سیاست غوره او پرمخ بوزی غالب ګومان دا دی چی د بهرنیو چارو د پخوانی وزیره وارن کرستوفر» په مقایسه به د جمهور رئیس کلنټن په لارښوونه د غوره شویو نړیوالو سیاستونو په بنسټ به په نړیوالو مسایلوکی د هغی خپل اثر او نفوذ زیات دی ، ځکه چي د ملګروملتویه سازمان کی د امریکا د دایمی استازی په توګه هم اکثرا پرنورو د خپل نظراو خبری په منلوکی هم دی بریالیتوب ترلاسه کړی.

د ملګروملتویه سازمان کی د امریکا دایمی استازی دجمهور رئیس د کابینی رسمی غړی وی .او پدی توګه د هغی مقام له یوه عام سفیر څخه ډیرلوړ وی .خو د میدلین البرایت په هکله ویل کیږی چي هغه د خپلی دندی او حیثیت څخه هم د ډیر اثر او رسوخ درلودونکی ده . په قاطع اندازخپل نظروړاندی کوی ، دا نظریوازی د اصولی یا بنسټیزو مسایلو په اړه نه وی ، بلکه د یو ډول عملی اقدام لوری ته تشویقونکی دی . لکه څرنګه چي هغی د بوسنیا په هکله د جمهور ر ئیس کلنټن د سیاست په واضح کولوکی خاص رول ولوباوه .

دهیتی ، کیوبا ، اوسومالیی په څیرمعاملوکی د سخت امریکایی ».یاست په غور کولوکی نوموړی ډیرمهم رول درلوده .

یوځل چي میدلین البرایت بوسنیاته د امریکایی پوځ پر استولو ټینګار درلود، نو دکلنټن د مختلف النظره کابینی په غونډه کی یی خپل همکارته وویل :امریکا د نړۍ ترټولو سترځوت دی، اعلی درجه پوځ لری د داسی پوځ نه څه فایده چي کارتری وانخیستل شی په حقیقت کی میدلین البرایت د عام امریکایی په دی بزدلی پوری ملنډی وهلی چی داسی ځای ته د امریکایی پوځ له لیږلو نه ډډه کوی ، چیرته چي په جګړه کی دهغوی د مستقیم ککړتوب اندیښنه وی .

په سومالیا کی چي امریکایی پوځونو د کوم «جرأت اوزړورتیا » مظاهره وکړه ، هغه ددی خبرو روښانه مثال دی. حقیقت دا دی چی که له امریکایی پوځونو څخه نوی کمپیوتری وسله واخیستل شی، نو په یوه میدانی جګړه کی به هم ونشی جنګیدای .

مأخذ : د «فرایندی اسپیشل » اونیزه ، د کراچي

چاپ . د دسمبرد (٢٠می) نیټی

ګڼه : لیکوال : عطاء الرحمن

جوانا! ره طاعت امروز گیر

آستانه

اگرمیخواهید آزاد باشید ازهمکاري باخیانتکاران بپرهیزید

نظریه عوام براینست که کشور ها بیشتر ازطرف خارج مورد تجاوز قرارگرفته وبه تباهي میرسد اما باید دانست که این افراد داخلي اند که از نفس ملت براي تباهي کشوروملت خود بابیگانگان دست داده همچو انگلهاي عضویت زنده دربسته به خدمت دشمنان بوده وتن سالم اجتماع رامریض وبیمارگردانیده اند شاید بعضاً آگاهانه بخدمت درآمده باشند که درلباس حمایت ازمردم وچوپاني گله ها به دریدن وویران کردن زندگي مردم مصروف شده بدون آنکه توده ازآن آگاهي داشته باشد این خائنین تحت عنوان خدمت چه خیانتهاي نیست که نمي کنند وتحت عنوان عنایت به مردم چه غارتهاي نیست که بعمل نمي آورند. آشکار است تادمیکه چنین دستهادرکاریك ملت وجمعیت مداخله کنند حاصلي جز افزایش تباهي وویراني براي آن ملت نخراهد داشت .

اماعده یي هستند که ناآگاهانه درخدمت خائنان وتبهکاران قراردارند وحداکثر آنکه خودرا معذور دانسته وبعلت اقتضاي روزگار خود را ازخشم خداومردم معاف مي دانند، خطراینان شاید براي مردم بیشتر از آن دیگران باشد از آن بابت که کارگزاران وعاملان خیانتند وکارها براساس خواسته خیانتکاران وبدست اینان انجام مي گیرد . اینان درعین حال به امرووطن دوستي و دیانتداري سرگرمند وفکرمي کنند مباینتي میان دینداري ومردم آزاري وجودندارد، هم مي توان دم ازوطن دوستي زد وهم نماز خواند وهم کارگزار عوامل بیگانه بود . هم میتوان خدارا عبادت کرد وهم دل مردم را بدرد آورد .

براي اینکه ملتي ازنتایج بداعمال رکردار خیانتکاران نجات یابد، قبل ازآنکه باآنان دست همکاري فشرده باشد باید چهره هاي آنهارا شناخته واز پشتیباني شان دوري جوید ونگذارد که چنان دست هاي آلوده به ماحصل نیروي آنها حاکم شود وبه تبهکاري بپردازد . امروز بیش ازهمه نسل جوان که نسبت به آینده تابناك کشور خودمي اندیشند وهم بازوي قوي ملت را تشکیل میدهد وازجانب دیگرچشم دوست ردشمن بدان دوخته شده است وظیفه دارد بازیرکي ودانایي درشناسایي آنهائیکه کاذبانه مدعي خدمت اند دقیق باشد وبخاطر آزادي واستقلال کشور ازهمکاري باخیانتکاران ردشمنان بپرهیزد ، تاسرنوشتي چون امروز که نصیب ملت ماست حاکم نگردد .

چمن جوانان

مشعل راه

حقیقت اسلام

این عجیب است که قرآن به بکارگیري عقل تاکید مي نماید ولي مسلمانان ازانجام کار هائیکه به سرپنجه عقل فکروتدبیر انجام میباید فرارمي نمایند وازاستعمال عقل خود داري مي ورزند . امروز بیشترین مسلمانان دین را ازطریق عقل درنیافته وبراي پیروي ازآن عاقلانه حرکت نمي نمایند بلکه کورکورانه به پایه تقلید وآنهم از اجداد ونیاکان وپدران ومادران عمل مي کنند. ایشان به اجداد ونیاکان، مفسرین بقدري اعتقاد راسخ دارند که هرچه را ازآنها شنیده اند کاملاً مطابق حقیقت میدانند و ازآن بقدرسرموهم تجاوز نمي کنند وآنرا جایزنمیدانند درحالیکه عقلاً ضرورت تحقیق درهمه موارد براي تصفیه وتزکیه اعتقادات واعمال ازفرایض هرمسلمان است وفرمایش اسلام است که فکرکنید درمورد خلق آسمانها وزمین ونفس خود تان ویادرموردایستادن براي خدا یك یك یادو دو.

فکرنمودن ویا بکاربردن عقل درفهم چیزي وظیفه یك فرد ویاجمعیت خاص نیست بلکه مکلفیت همه مسلمانان است ولي باتأسف که این فریضه گر انقدر رامسلمانان ترك گفته وازمزایاي عقل وعلم خودرامحروم ساخته اند بناءً به مشکلات عدیده اي ازجمله مواردذیل مواجه اند .

١ - اگرمسلماني بنابر دانش وعقلش برتفسیرمفسري که دریکي ازمقاطع زمان حیات به سربرده ومطابق ظرف زمان خود به تفسیر آیات قرآن عظیم الشان پرداخته است اندك کلمه یي علاوه کند، فوراً بدان فتواي کفرصادرمي گردد.

٢ - اجازه داده نمي شود که براي تفسیر آیات وتوضیح بیشتر آنها مطابق ضرورت زمان حرفي به گفته هاي پیشوایان اسبق علاوه شود واگرکسي جرئت نماید برآن حکم کفرمي شود .

٣ - مهمتراینکه آنچه را امامان بزرگوار گفته اند دیگر قابل تغییر پنداشته نمي شود وگفته یك امام جزء شریعت قرارگرفته است وپیروي ازآن فرض پنداشته مي شود .

٤ - براي هیچ کس اجازه داده نمي شود که برگفته هاي امامان که طبق عقل خود وشرایط محیطي شان به تفسیر پرداخته ویافتوا داده اند نظري جدید ارایه گردد .

نتایج ساکت نگهداشتن عقل وپابندي به قرار داد هاي ائمه کرام بیشتر باعث اختلافات مذهبي گردیده و اتحاد مسلمانان را دستخوش اختلاف وافتراق نموده اند ، دیده شده است که زید به یك راي موافقه داشته وعمرو به نظریه دیگري توافق نشان میدهد، بالاخره اینهو ازلحاظ نظریاتي درحالیکه مسلمان اند خود را پیرو قرآن وسنت میدانند به دعوي وجنگ مي پردازند ،دعوي وجنگ اینهو اشاعه یافته درسطح مطبوعات کشانده شده وازآنجا به عوام مي رسد، عوام که خود آگاهي ندارد موضوع راپیچیده ترساخته وتاآنجا به پیش مي روند که اسباب قتل وقتال فراهم میآید وجامعه اسلامي را که باید نظم انساني داشته باشد مواجه به بي نظمي وپراگندگي میسازد که این بي نظمي باعث مي شود که جامعه ازترقي وتعالي مادي ومعنوي بازماند وبجاي اینکه قانون خدا حاکم برامور گردد ، قانون جنگل حکم فرمامي شود .

جاي تاسف آست که درطي سیزده قرن وضع مسلمین بابي نظمي واختلاف همراهي داشته وبراي هیچ کس امکان نفس کشیدن آزاد داده نه شده است . درحالیکه سواي قرآن دیگرهرکتابي مواجه به نقصان بوده است زیرا به استثناي قرآن کریم دیگربراي هیچ کتابي ضمانت حفاظت ازجانب خدا(ج) داده نه شده است . هرگز نمي شود ادعاکرد که مصنفي ازخطا واشتباه پاك است وهم چنان درقرآن وسنت حکمي وفرماني بدینسان نیامده است که راي فلان مفسر ومبصر کاملاً ثاقب وغیرقابل نقد است وهرمسلمان مکلف به پیروي ازآن مفسریا مبصر مي باشد، وهکذا هیچ امامي ادعاي کمال مطلق رانداشته است وحتي حضرت امام ابوحنیفه (رح) نسبت به اینکه امکان اشتباه ازجناب شان متصور است ازروي احتیاط مي گوید که درصورت مخالفت نظریه من باقرآن وسنت ازقرآن سنت پیروي شود و از راي من صرف نظر گردد. جناب امام اعظم که میدانستند ایشان عقل کل، علم کل وعالم بالغیب نیستند محتاطانه به ارایه نظریه فوق پرداختند تاپیروانش باري درتنگناه قرارنگیرند واینرا بدانند که امکان تقصیر ازامام وپیشوا سواي پیامبر (ص) متصور است وتنها پیغمبر (ص) ازکوتاهي وتقصیر معصوم است زیرا پیغامبر(ص) هرگز از نفس خود حرف نزده هرچه گفته است وحي است .

بازهم جاي تاسف است که مسلمانان بدون بکارگیري عقل دربي اختلافات جزیي توان خودرا صرف کرده وگرفتار چنددستگي ها اند وهم وغم شان متوجه امور فرعي شده است درحالیکه ملل دیگر هااختلافات راکنارگذاشته پیروهردیني که اند تکیه به رهبري اعلي خویش دارند وبه استادیکه از آن مقام رهبري باقي مانده است متمسك اند وعقل خویش را براي تحقیقات مصروف ساخته اند تااین زمین را که درآن منابع زیادي جهت آسایش انسان جابجا شده تسخیر نمایند به همین دلیل است که پیشرفت نموده اند. اگر مسلمانان هم از اختلافات فرعي بگذرند وتمسك به کتاب الله وسنت پیامبرگرامي بدارند بدون تردید درهر دو جهان سرفراز خراهند بود و مهر عقب ماني ازپیشاني شان پاك خواهد گردید .

که فرداجوانی نیاید زپیر

دحضرت محمد (ص) دویارلو اصحابو دپیژندنې په لړکې

حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله تعالي عنه

داسلام دسترپیغمبر دادیارلي صحابي حضرت عبدالرحمن بن عوف دقریشو دقبیلي دبنو زهره له کورني ځخه ؤ اودنسب په پنځم پشت کي له حضرت محمد (ص) سره یوځاي کیږي . دده کورني ششمنه وه . ده داسي وخت کي داسلام سپیڅلي دین ومانه چي داسلام پیغمبرلاپه دارارقم کي په دعوت لاس نه ؤ پیل کړي . عبدالرحمن بن عوف داسلام دسپیڅلي دین دخدمت په لاره کي ډیر کړاوونه وګالل .

ده ته دحضرت محمد(ص) له خوا په دنیا کي دجنت زیري ورکړي شوي ؤ اودعشره ومبشروو له ډلي څخه ؤ دي داسلام له لومړیو مهاجرینوڅخه ؤ چي دهجرت په پنځم کال حبشي ته ولاړ .

